**د ماشومانو د خبرو کولو او ژبې د درملنې خدمت**
د والدینو او پالونکو لپاره لارښوونې.

# د توکو کارول تر څو ستاسو له ماشوم سره د ورځنیو چارو په پوهېدو کې مرسته وکړي.

ولې له شیانو څخه د ورځنیو چارو لپاره استفاده وکړو؟

د ورځنیو چارو لپاره شیان ستاسو له ماشومانو سره مرسته کوي تر څو:

- پر خپلو ورځنیو چارو پوه شي
- له یوې چارې څخه بلې ته لاړ شي
- پر دې پوه شي چې په ورځ کې به یې بیا څه راځي.

دلته د ځینو شیانو بېلګې دي چې تاسو کولای شئ د یوه ورځني روال د وړاندې کولو لپاره یې وکاروئ:

- د ښناک د وخت لپاره یوه پیاله
- د حمام د وخت لپاره یو ځان پاک
- د کیسې د وخت لپاره یو کتاب
- د لوبو د وخت لپاره د ماشومانو یو موټر
- د خوراک د وخت لپاره یوه کاشوغه
- د بهر تللو لپاره یو کوټ
- د ویده کېدو وخت لپاره د غابښونو برس.

د ورځنیو چارو لپاره د شیانو کارول:

1. د ماشوم د نظر محدودې ته په ښکته کېدو سره د هغه پام ځان ته در واړوئ. بیا د هغه/ هغې نوم واخلئ، یا یې لاس په ارامۍ سره لمس کړئ
2. له راتلونکې محفل څخه مخکې توکی ماشوم ته وښایاست او ووایاست چې څه به پېښ شي، د بېلګې په توګه د "خوراک وخت" یا د "ویده کېدو وخت"
3. ماشوم ژر محفل ته بوځئ تر څو له هغه سره مرسته وکړئ چې توکي ته له فعالیت سره اړیکه ورکړي
4. کله چې ماشوم محفل ته ځي، اجازه ورکړئ چې توکی را واخلي
5. مخکې له دې چې تاسو له توکي یا مرجع څخه د لېرد لپاره ګټه واخلئ، ډاډ حاصل کړئ چې محفل چمتو دی، د بېلګې په توګه که چېرته وخت د بهر تللو وي، ډاډ حاصل کړئ چې له وتلو څخه مخکې د اړتیا وړ ټول شیان درسره دي.

د شیانو د کارولو لپاره لارښوونې:

- کېدای شي ماشوم و نه غواړي د حرکت پر مهال توکی را پورته کړي او دا ستونزه نلري! ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د هغه پام ځان ته را اړوئ او هغه کولای شي له محفل څخه مخکې توکی ووینې.
- هغه توکي انتخاب کړئ چې له هر محفل سره سمون لري، لکه د داپیر د بدلون وخت لپاره یو ډایپر.
- د توکي له کارولو څخه مخکې ډاډ حاصل کړئ چې توکی چمتو دی، د بېلګې په توګه بهر ته له تللو څخه مخکې هر څه چمتو کړئ.